**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۸** **نېټه: ۲۹ / صفرالمظفر / ۱۴۴۵ هـ ق | برابره ده له: ۲۳/ وږي/۱۴۰۲ هـ ش**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه محکمو او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

و بعد: د افغانستان اسلامي امارت د چارو د محترم لوی ریاست د ۱۴۴۵/۲/۱۸ هـ ق نېټې (۲۵۷۳) ګڼه لیک، چې د سترې محکمې د تحریراتو ریاست د ۱۴۴۵/۲/۲۸ هـ ق نېټې (۵۲۱پر۱۸۸) ګڼه لیک سره مل دی، رارسېدلی دی چې پښتو لنډیز یې په لاندې ډول دی:

((د افغانستان اسلامي امارت د مالیې محترم وزارت په هنګرونو (ګودامونو) کې پرتو ضبط شویو مالونو د ویستلو په تړاو خپل یادښت او د اړونده ادارو له خوا یې د ویستلو په هکله خپل د ۱۴۴۵/۲/٦ هـ ق نېټې (۱۰۵) ګڼه وړاندیز د ریاست الوزراء عالي محترم مقام ته وړاندې کړی و چې د یاد وړاندیز لومړنی انتخاب په لاندې ډول دی:

(هیڅ یوه اداره دې د محکمې د حکم نه وړاندې د ګمرکونو د لوی ریاست د ګمرکونو له هنګرونو څخه د قاچاقي مالونو د ویستلو غوښتنه نه کوي او د موضوع په تړاو دې خپلې غوښتنې د اړونده واکمنو محکمو تر قطعي او نهایی پرېکړو پورې وځنډوي او د محکمو پرېکړو ته دې منتظر پاتې شي.)

د ریاست الوزراء محترم عالي مقام د ۱۴۴۵/۲/۱۵ هـ ق نېټې د (۱۳۱) ګڼه لارښوونې په ترڅ کې د یاد یادښت د لومړني انتخاب په هکله لارښوونه کړې ده چې په لاندې ډول ده:

**وکتل شو:**

**لومړنی انتخاب تایید دی.))**

بناءً، د سترې محکمې د محترم قضایي معاونیت د ۱۴۴۵/۲/۲۵ هـ ق نېټې هدایت له مخې، د ریاست الوزراء د محترم عالي مقام لیکلی هدایت د دې متحدالمآل په واسطه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې اړونده تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو ته واستول شو تر څو په رڼا کې یې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت د څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء عمومي رئیس**

**ستره محکمه**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.